سلطان جان کلیوال

۲۰۱۸/۰۴/۱۳

# «د پښتین خبری»

بدلومه دوزخ هسی، چی جنت ورتــه حیران شی

هسي مینه کول غواړم، چی نفرت ورته حیران شی

غریبی ستا په وجود کی، تویه وم د مینی ښاخکي

چی زلمی شی پیرزوینه، او غربت ورته حیـران شی

تـولـوم خـواره ولسونه، د یـوی جنـدی د لانـدی

چی په مخ د دی نړی کی، هرملت ورته حیران شی

بــی وســی نن دی لمن تــه، اچــوم هسي ګلونه

چی شتمن ورته حیران شی، او دولت ورته حیران شی

د وریښمو په یو تار کی، خواره زړونه می د خلکو

هسی پیئم سره واړه، چی طبعیت ورته چیران شی

کلیـوالو پیـژندلی، زه «پښــتین» د وفا زوی یـم

جوړومه پښتون هسی، چی خلقت ورته حیران شی

اپریل/۲۰۱۸/۱۱

تورنتو ــ کانادا



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com